مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۱۲/۱۶

د وردګو د واده دود او بدلي

څلورویشتمه برخه

د واده بدلي
ناوې د سر جوړول:
دا بدلي د ناوې د سر د جوړولو په وخت کې د ټنګورو له خوا ویل کېږي:
د ناوې سرکونډې دي کونډی سر کله جوړېږي؟
خپله مور یې نشته، پردئ مور څه پې ([1]) پوهېږي
*

د سندرو لیر([2]) یې جوړه په تندي کړه
د (...) ویندر یې جوړه کاغذي کړه
*

سردي غوړ که سترګې توري چې ولاړ وو به دې
(. ..) سواره راغلي سوروو به دی
*

په تورپیکي دې د چندنو لیري ولاړې
یا: په سپین تندي دې د چندنو لیري ولاړې
ته خو د (...) د کوره نه تلې ولې ولاړې.
*

د ناوې سر په غوړو غوړ کړي نور یې مه وو وئ
چې د (....) جنازم ([3]) واخسته بیه([4]) یې ښه وو وئ
*

د ناوې سر په کوچو غوړ کې نو یې وووئ
که د پلار رضا یې نه وي بیه یې مه وووئ
*

ول – ول ده غوړیشي څنې غوړېږي
ناوې د شرین یار سه ښه ښکارېږي
یا: ناوې د (... خان) سه ښه ښکارېږي
*

سرباپې ([5]) شانه ورو- ورو پې وهیه
شرینه مور یې مه راخبرویه
*

سر یې دوه – دوه تاره واخلی ژړکه ورو یې بېلویه
که خور په (...) ګرانه زر یې مه جدا کویه
*

ګوتې وخوري سر اوبدنې!
په لوی سهار دې مات کړل د پیکی نري بندونه!
*

سهار دی ناوې ته مرنځ وګورئ
ناري کړئ شیرینه مور یې روبولئ ([6])
چې تور اوربل دې جوړوي کوڅې دې ولونه نیسه
(...) خان) درته وېلاړ دی ګلالي مخ ته ریمالونه نیسه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*
چې تور اوربل دې جوړاه په خيال مينه وې
چې(...) يې ړنګوي، اوس ګيله منه يې
*
وروره راشه سر مې واخله
که طلا در سره نه وي د هوسۍ په ښکر يې واخله
*
اوس به سرلرګی([7]) په ځنيو پورې کړم
اوس به (... خان) ته ناوې جوړه کړم
*
وربل دې په چمو-چمو اوبدلی دی
په تا د (... خان) چپاو لويدلی دی
*
سردې غوړ که سترګې توري چې ولاړ وو به دې
(. ..) سواره راغلي سوروو به دی
*
چې تور اوربل دې جوړوي کوڅې دې ولونه نيسه
(...) خان) درته وېلاړ دی ګلالي مخ ته ريمالونه نيسه
سرباپې سر يې ورو – ورو جوړويه
دا په ورونو ګرانه بيا يې مه وريادويه
د ناوې سينګارول:
الف: د خالونو د وهلو د وخت بدلي:
ناوې زنګيالي([8]) خالونه کېږده
يا: ناوې رنګارنګ خالونه کېږده
ناوې په ليورو ښه نومونه کېږده
ب: د دنيو د اېښودلو د وخت بدلي:
رنګ رنګ د نې پې کېږدئ چې ځلېږي
(...) ورته رابولئ هوسېږي
يا: ورته ويلاړ دی هوسېږي
ج: په ناوې باندې د ګانو د ځړولو د وخت بدلي:
ټيك مې ځنځير دار دی ځنځير دار دی
ورور مې جوړ کړی د کابل په لوي بزار ([9]) دی
*
اوس بې د سر ټيك داني – داني کمه ([10])
اوس بې د مورکې ده سترګې سرې ([11]) کمه
*
د: د ناوې د سترګو د تورولو د وخت بدلي:
ناوې سترګې توروه ولاړوو به دې
د (...) نيلی وېلاړ دی سوروو به دې
*
ناوې سترګې دې پټې که ده توري
سبا به (... خان) ځوانی پې ګوري
يا: بېګه (بېګا) به (د.... خان) ځواني پې ګوري
ر: ناوې ته د جامو د اغوستلو د وخت بدلي:
ويندېږي جوړ که چندنار([12]) د ما تر لوړ وړی
د (... خان) ته سرلنګی شال يې تربورو وړی
*
نن به دې د سره ورپښمين کښا وې([13])
سبا به دې نرۍ – نرۍ ژړا وې
ز: دا هغه بدلي دي چې د ناوې جوړولو او سينګارولو په موده کې ويل کېږي او عمومي بڼه لري:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ژنیو په ټولي کې چلم وار دی
د پېغلو په ټولي کې په تا نتار ([14]) دی
یا: د ځوانانو په ټولي کې د تا تلیوار دي
ونه د بدام ([15]) پاڼې یې خزان تویوې
را درومه ([16]) (... خانه) خورکی دې ځان جوړوي
سحر سبا دی سپیدې نار کېږي
ناوی غوټی ده اوس به ګل کېږي
*

ناوې په ښو دي زېړ ګلونه دي
ناوې ښه ځوانان د تا لیورونه دي
*

ونه د بدام پاڼې یې خزان تویوي
(....) ته دسې ویه ناوې دې ځان جوړوي
*

ژر – ژر یې جوړوئ چې ګرمي کېږي
(...) ته ګل نازك دی خولې کېږي
*

د لور مور ګورئ ویده ده
مه یې وېښوئ نن یې بیه لمبه تازه ده
او دا هغه بدلي دي چې د ناوې د جوړولو په موقع د کور واله ښځو له خوا ویل کېږي:
ارمان مې د (...) کلي د بخته
شخشولي یې زموږ د کور د رخته
*

ناویې زړه مې ډېر درته بدېږي
داسې خو بې پلاره لور ودېږي
یا: داسې خو بې موره لور ودېږي
*

په ناوې مه کړئ پلو ترې پورې
(...) چینجي خوري غاړې یې توري([17])
*

ډمه ډول ویه ([18]) لرګي پې کېږده
د ناوې ډنی نشته نن یې بیه ودوزن پرېږده
د ناوې کتل:
کله چې ناوې سینګار شوه او شال پرې واچول شو، د ښځو د ننداري له پاره کوټې ته راوستل کېږي. دا وخت ټنګوري په سندرو کې خپله ناوې ستايي او کله کله د هغې د خپلوانو د ځورولو له پاره انتقادي بدلې هم بولي.
ناوې چې تور کجك([19]) دي تاوېزنه([20]) دي
ناوې خانزاد ګان د تا لیورونه دي
*

ته دو وچولي دې جر شم د خالو سره
د (پلاني) پټې دي ګرو کړ له ریشکو سره
*

هلك نری چنار دی نری اوبه یې نه وړي
(...) ډېر ښایسته دی نابوده ([21]) ویندیرنه وړي
په وره کې د خرما ونه وېلاړه ده
په کونج کې د (پلاني) ناوې وېلاړه ده
*

ناوې سیوری دې ببر دی
په رنګ خو ښایسته یې په حکمت دې خدای خبر دی
*

ناوی نګښی دې جر شم د خالو سره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خيالي ... ([22]) مې ګرو شوه د تخمو سره
*

ناوې تندی دې ورك شه له خالو سره
د موږ فصلونه ګرو شول د تخمو سره
*

ناوې په بنو دې ګلې ([23]) اوري
ناوې (... جان) سپا يې ([24]) دې ګوري
*

بېګه دې نرۍ سترګې تورولې
ګهېځ مې تش کالبوت ودرولې
*

په چارګل ([25]) کې دې وړې سرې ملغلرې
په (...) پسې به ته ځې بختورې
د موږ د ناوې څومره ستر تندی دی
ارمان مې د (...) ده شين پټی دی
*

تور اوربل دې مزی([26]) اړولی دی
(...) يې ورانولو ته راغلی دی
*

د دې کلي ملك نه مالومېږي
ناوې مو کمکولۍ راته ښکارېږي([27])
تر دې وروسته هغه بدلي راځي چې ټنګوري يې وخت په وخت مخصوصاً د ناوې تر کتلو وروسته د وړلو تر وخته پورې له دریاؤ او ګډاؤ سره يو ځای بولي او د هغو په ترڅ کې د ناوې د پلارګنۍ ښځې ځوروي – رټي او حتی ښکنځلې ورته کوي:
د چه ييره پاپوسه د (پلاني) ييره پاپوسه
چڑګی ورته ونيسه، کليمه وو يه دووسه
*

سور اوښ مې په سرو زرو در بار کړی
ده يو ځوندي دې .. چې تا ورکړی دی
*

چرګه د چرګوړيو سره ورکه ده
(...) مې د رومونيو سره ورکه ده
*

شو تلګی([28]) دې بار نيولی شوتلګی دی بار نيولی
چې په زور دې راکوله اوس دې څه کبر نيولی
*

هوښياري ناوې نه دې ژړومه
د ابه کورګی دې نه دريادومه
*

د موږه تر برو شرنګ ويې روپۍ
د (....) غوړونه وچ دي د نيستۍ
*

د چلم مې کړهار شو د کوزې سوی نارې
(.....) مې داسې ناست دی خدايه .... يې وباسې
*

د انګورو نرۍ لښتې لاندې باندې
د (.....) سپينې غولينځې([29]) ته (پلانی) لاندې
يا: د خيښې غولينځې د (پلاني) ته سينه لاندې
*

د موږ ناوی ځېر سترګې ده نه ژاړي
چې د ليورو لغتې وخوري بيا به ښه ژاړي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

*
د پاسه په جړ- جړ اوبه توېېږي
یا: د موږ ته دوربچو ([30]) انګور توییږي.
(...) مې په شپاله([31]) کې مردارېږي، شکر چې چاړه نه پردا کېږي([32])
*
(...) د ګرد کلي ملك یې
غړك ([33]) موښي په یو له کې
*
جومت شو لوټي – لوټي
(....) ځنې روووت([34]) سپیره خوله لکه د کوټي
(...ګل) مې ځنې روووت اشرپې ویشي په موټي.
*
په زېړو ګلو کې رتلي ([35]) خوري ګلداره به شي
که دې ادې ته شولي ورته نو دلاله په شي
څوك ته چولو ([36]) ګوري (...) ته چولو ګوري
خدای دې مرګ ورته ولمه ([37]) کا چې بیه پورته ونه ګوري
*
د چه([38]) ییره([39]) دوه تاره، د (...) ییره د وه تاره
په غوړېو نه غوېږي پې وروکې نری داره([40])
*
راووزه د موږ خپلي ناوکې
ورپرېږده د شا خلو غونډاری([41])
*
ټپس ([42]) په کټو کارته ([43]) پورته کېږي
(...) په سرخاني کله پوهېږي
*
شنې شوتلګې څه زور دې نیولی دی
ابه دي په برستن کې ځان نغښتلی دی

د اس په شا دې را نه وړې چینکې
د پلار خولګې دې .. چاودینکې([44])
*
شین پټې دې په مخ ګرو شو چاودینکې
د پلار خولګې دې ... کتر ینکې
*
د کلي ته څټ پټي دي پوله نه لري
(...) پکې ریي ده پوزه نه لري – د سپي پوزه پې کېږدئ عیب نه لري
*
د کور ته شا تیره ده رنا به نه شي
(...) د ګور بندي دې خوري را به نه شي([45])
*
په کابل کې طبیبان دي راولو به یې
د (...) مخکې مې تور دی سپینووبه یې([46])
سلګون لوټونه تا خستل([47]) کېن ([48]) دې شه
د موږ لیاز ([49]) دې و نه کا زنې بند ([50]) دې شه
*
یخچك ([51]) مې ماتووا([52]) پې لمده ([53]) نه شومه
(...) مې دی خر کړی پې سوره شومه
یا: (...) مې خر کووا (کاوه یا کولو) پې سوره نه شومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*
تو ([54]) سپیه تو مخ دې نه دی د کتو
ما وې ته به یو سړی وې ته خو سپی یې د کوڅو
*
په کلي د شگو بران وشه
(...) د مرگي تیه ([55]) دې وشه
*
خیالي کټ مې ته سیره ([56]) لاندې ایښی دی
ده .. مې د (...) په خوله کې ایښی دی.

زموږ د ناوی مخ ولې خولې دی
(...) که دغه سپی داسې راپسې دی([57])
*
ټول خلك ویده دي (...) مې حسابونه کا
ایره یې خریلې برېت یې سلامونه کا
*
د موږ ناوی چې ژاړي گرمه نه ده
ناوې ام د (...) د خدمت ([58]) نه ده
*
د چې پوستین د وزې دی د (...) پوستین د وزې دی
لکنه په لاس ورکړئ دی لایك ([59]) د دروېزې دی
*
موږ ډوډی نه خورو ډوډی سي ([60]) لرې
(پلاني) ته یې دې ورکا چې پېرې لرې([61])

---

[1] پرې او دا سندره معمولاً هغه ناوی ته ویله کېږي چې مور یې مړه وي او نا اهله میره ولري.
[2] لیر - لار
[3] جنازه مو
[4] د (بیا یې) مخفف.
[5] سرباپه یعنی سر جوړونکي ښځه
[6] روبوله- رابوله.
[7] سرلرگی یوې جوړه کړې چکی ته وایي. ښځې کنډ، لونگ، نرکچور او نور ښه بوی لرونکي شیان میده کړي او بیا د اوبو په مرسته چکی ځنې جوړه کړي. کله چې دا چکی وچه شوه ښځې یې هغه اړخ چې لږ سولول شوی وي د ناوې په وېښاتو موښي چې خوشبویه شي. ځنې ښځې د ښایست له پاره په سر لرگي مرۍ او کونجکی پورې کوي (کوچیانی پانگه، ص 102).
[8] زنگیالي – تیز اسماني شین رنگ. ښځې خال ترې وهي.
[9] بزار- بازار
[10] کړمه.
[11] یعنې چې د لور په وړلو به یې مور هومره وژاړي چې سترگې به یې سرې – سرې شي.
[12] چندنار- د سپینو زرو پسول دی. زرگر لومړی څو مربع ټوټې جوړ کړي چې بیا یې د غورغیو په واسطه یو له بل سره نښلوي. د دې ټوټو پاسنی برخه مثلثي وي چې د غاړکی په شان په غاړه کې ځوړندېږي او د لاندینو ټوټو په لمنو یې گړونگي ټړلي او ښکته ځوړند وي (رفیع)
[13] کښا- د ټوکرو خوځېدولو غږ.
[14] نتار – ناتار- غم- ویر.
[15] بدام – بادام.
[16] رادرومه یعنې راشه، را ځغله- راځه.
[17] په دې سندره کې د ناوې هغه خپلوان یادېږي چې مړه شوي وي.
[18] ویه- وهه.
[19] کجك: په فرهنگ کې لیکل شوي دي (موي مخصوص پیشاني زن که به شکل بادام اراسته میشود)
[20] - د زرو یو پسول دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

[21] نابوده: بد قواره
[22] د یوې ټوټې ځمکې نوم.
[23] ګلۍ – ږلۍ – ژلۍ. د وردګو په ګړدود کې (ږ) شته، خو (ږلۍ) استثنا په (ګ) ویله کېږي.
[24] سپايي – سپاهي – عسکر.
[25]چارګل: هغه پسول دی چې له سرو او سپینو څخه جوړېږي. مدور شکل لري. پزه ورته سورۍ کېږي او چارګل د پاسه پرې ټومبل کېږي.
[26] مزي – رشته
[27] د کوچیانو بدلې:
ړنګه دې ګوډۍ ده چرګان پکې رانیوی نه شم
داسې د دستور ده، سیالانو ته کتی نه سم
یا: دا د تا کورګی یوه زه پکې جاپیدی نه شم
(کوچیانۍ پانګه ... ص 78).
[28] شوتلګی – شوتلکه: هغه وحشي شوتله (شفتل) ده چې له اهلي شوتلې سره په رنګ کې توپیر لري. څاروي یې نه خوري او په وحشي ډول شنه کېږي. خلك یې لیونی شوتله هم بولي.
[29] غولینځ د غوا تیو یا پستان ته وېل کېږي. په دې بیت کې د خیبنې تې د غوا له غولینځو سره تشبیه شوي دي.
[30] د وربچه– دریچه – کلکینچه.
[31] شپول – غوجل.
[32] سره له دې چې د وردګو په ګړ دود کې ټولې (ي ګاني) شته؛ خو ځینې کلمې چې په(ی) لیکل کېږي او وېل کېږي استثناء په (ږ) تلفظ کېږي. لکه پږدا (پیدا) مږدان (میدان).
[33]غړك- مشك: د وزې پوستکی په خاص ډول آش کېږي او بیا تر رنګ وروسته (پې یا شودې) پکې موښل کېږي.
خوشال خټك وایي:
چې سړې شړومبې یې خورم په وخت د لوږې
پاچا یې د اورنګ زېب زما غړکه.
[34] رووت- راووت.
[35] را تلې
[36] چوله- درز.
[37] ولمه- مېلمه.
[38] چه- چا.
[39] ییره- ایره- ږیره- ریش.
[40] داره: رڼې متیازې
[41] غونډارۍ هغه ګردۍ – ګردۍ کوچنۍ ډوډۍ دي چې خوړې او غوړې ښې په ډول پخېږي. په وردګو کې ډېر لږ خلك د اقتصادي کمزورتیا له امله د غلمینۍ (ګندمې) ډوډۍ په څنګ کې ګډلې (ګډوله) دوډۍ هم پخوي. په ګډوله ډوډۍ کې غنم یا بآقلي (دوې حصې غنم، یوه حصه باقلي یا نیم، نیم غنم یا نسك(پخوانی ترکیب) سره ګډېږي). د شاخلو ډوډۍ نه پخېږي او یوازې څارویو ته وراچول کېږي؛ خو دلته د طعنې په ډول د شاخلو غونډارې یاده شوې ده.
[42] ټپس- یو لوی ښکاري مارغه دی چې ځمکې ته راکښته کېږي او چرګوړي تښتوي. د ټپس غټ ډول ته تجیر یا کجیر ویل کېږي.
[43] کارته- کښته.
[44] چاودینکه: په وردګو کې دوه ماناوې لري:
الف – هغه ښځه چې بې نظافته وي او یا یې لاس او پښې چاودې وي.
ب – هغه ښځه چې په عمر پخه او په بییه (ونه، قد) ډېره ټېټه وي. دې ډول ښځو ته لویشتینکه (یعنې یوه لوېشت) یا کترینکه (قطره، کتره) یعنې ډېره کوچنۍ او خورد جثه هم وېل کېږي.
[45] د ناوې کوم نژدې خپلوان چې مړ وي.
[46] د منګلو بدل:
په کابل کې ترکونون دي راولم به یې
د شاعزیز سر مې لوی دی په تراشم به یې
(ولسي پوهه، ص 54).
[47] خستل- اخستل.
[48] کپن- کفن
[49] لیاز- لحاظ
[50] زنې بند– رنخ بند: یو نری سپین ټوکر دی چې د مړي زنه پرې تړل کېږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

[51] یخچك- لخچك: کنګل شوې واوره یا اوبه چې ماشومان پرې ښوېږي.
[52] ماتووا- ماتولو
[53] لمده- لنده
[54] تو- تف - د لاړوغورځول.
[55] تیه- تهیه
[56] سیره- سیوری
[57] که چېرې د ناوې پلارګنۍ د خیښۍ په جریان کې له خپلو نویو خیښانو سره ښه چلند نه وي کړي پر هغوی یې بابیرۍ کړي وي یا دی ورته نورې چارې، دا بیت ورته وېل کېږي.
[58] خذمت - خدمت
[59] لایك- لایق - وړ
[60] سي- سبوس
[61] د کوچیانو بدل:
موږ ته کنځا مه کئ خدای مو نیك آوازې که
موږ سره (پلانۍ) ده، خدای مو په بدنامي که
*
په نیمو شپو سر تور ملنګ راغلی ده
(...) مې د څوکۍ جار، باچا بللې ده

د موږ خورې ورځه سالو سر داره سي
(پلانۍ) دې خس بنه ته یې واکداره شي
یا: (...) دې چلمچي، ته یې باداره سي
*
اوښه وخورې دا لوی ورنونه
په شا دې وېوړې، بې موره لونې
یا: په شا دې وېوړې، بې پلاره لونه
*
د اوښ له پایه ولوېدې رسیه
په کوم لورې یې وېوړې پردیسیه
*
(پلانۍ) مې راوستلې ده
ما تا ته دربښلې ده، د ما ورور په تې رودلې ده
*
ناوې د کجاوو سرو ته وخته
(...) ته کپن ګز کئ ساه یې وخته
*
پورې په ژۍ دوه اوښان راوخاته
ښه څې له (...) مې لاس راوخاته
*
(پلانیه) وکه د سرو اوښو خیراتونه
څې راخلاص سوې د (...) له جنجالو نه
یا: څې راخلاص سوې د (....) له مینتو نه
*
دا بدلې لکه چې ناوې ته په خطاب کې ویل کېږي:
وو د پرنګي لورې د ډولو په زور مې راوړې
وو د پرنګي لورې د مېړو په زور مې راوړې
*
سپینې ناوکۍ څې کوډې ونه کې
(...) زموږه خپل څه ور په خوله نه کې
یا: (...) زموږه خپل څې بېلتون ونه کې
(کوچیانۍ پانګه... ص 123 – 124). نوربیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ